احسان الله آرینزی ۲۰۱۴/۰۸/۱۶

راتلونکی ولشمر او اجرائیه رئیس ته زما مشوره

کله چې شوروي اتحاد په افغانستان یرغل وکړ، ځینو کسانو فکر کاوه چې د دې هیواد مسئله نوره پای ته ورسېده، سور پوځ به ژر ټول باالقوه او باالفعل مخالفین وځپي او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت به (د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند) او په تېره بیا رفیق ببرک کارمل تر مشرتابه لاندې د سولې او سوسیالیزم د کمپ په یوه پیاوړي هیواد بدل شي!

زما په یاد راځي چې کابو یوه میاشت وروسته یوه متقاعد برتانوي جنرال یا سیاستپوه له BBC سره په مرکه کې وویل چې که روسانو له دې یرغل څخه مخکې، له موږ سره مشوره کړې وای، مونږ به هیڅکله هم افغانستان ته د سرتېرو د استولو خوښه نه وای ورکړې!

د هغه متقاعد برتانوي جنرال یا سیاست پوه یوه خبره په ځای وه؛ ځکه چې دوی ته په نولسمو او شلمو پېړیو کې په افغانستان کې د دریو جګړو او په پای کې د ماتې د تجاربو کتاب په مخ کې پروت و او پوهان خو ځکه وایي چې تأریخ ښه په دقت ولولئ چې پخوانئ تېروتنې بیا تکرار نه شي!

خیر د خدای کړه وو، د بنده ورته کاته و. شوروي سرو پوځونو په افغانستان کې ماته وخوړه. په دې هیواد کې د تنظیمونو د ټوپکیانو تر منځ داسې کورنئ خونړئ جګړه پیل شوه چې د هیواد پاته مادي او معنوي شتمني یې په اوبو لاهو کړه؛ خو اتلان، مسببین او مجرمین یې اوس هم باج غواړي او د مناصبو، پیسو، امکاناتو او قراردادونو د چور له پاره د ملي وحدت په حکومت کار کوي او داسې نور!

هو! د دې تورتم د پای ته رسولو له پاره د طالبانو اسلامي تحریک مټې ونغاړلې چې خپله په یو بل تورتم بدل شو او بیا د امریکا، برتانیا او پنځه څلوېښت نورو هیوادونو سرتېرو په افغانستان ودانګل، طالبان یې نسکور کړل؛ خو داسې اداره یې جوړه نه کړه چې هم دوی خیر ووینې او هم د افغانستان خلک!
زما په یاد راځي چې له دې لوی یرغل یوه میاشت تېره وه چې په ماسکو کې د افغانستان د جګړې د وژل شوو، معیوبو، معلولو او لیونیانو پوځیانو د شورى مشر له BBC سره مرکه وکړه او وې ویل چې که برتانویانو له موږ سره مشوره کړې وای، موږ به هیڅکله هم په افغانستان باندې د څلورم یرغل اجازه نه وای ورکړې!

اوس په افغانستان باندې د امریکا او ناتو او نورو ملګرو هیوادونو د یرغل د پارلسم کال دی؛ خو وضع دومره پېچلې، نازکه او ماتېدونکې ده چې په دریو میاشتو کې هر څه په بل مخ اوړیدلی شي. هغه وخت به نه ولسواکي پاته وي او نه هم د لوېدیځوالې تصنعي ولسواکي جهادي او غیر جهادی ملګري!

د افغانستان خلکو د ۱۳۹۳ د حمل په ۱۶ او د جوزا په ۲۴ د ولسمشرئ په ټاکنو کې برخه واخسته. د دې ټاکنو په دوهم پړاو کې چې ډاکټر اشرف غني او داکتر عبدالله پکې ولاړ وو، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په وینا څه باندې اته ملیونو کسانو رأیې ورکړې دې؛ خو داسې ښکاري چې زموږ د وارداتي، تحمیلي او تصنعي ولسواکي په سیوري کې، دا د خلکو رأیې نه دې چې سرې کرښې کاږي او بریالی او نابریالی معلوموي؛ بلکه دا د امریکا سکرتري آف ستیت ښاغلی جان کری دی چې د افغانستان له پاره ولسمشر او تګلارې ټاکي!!

ښاغلی جان کري موږ ته دا ځلې د ملي یووالي د حکومت نسخه راوړي چې حتی د ډاکټرانو اشرف غني او عبدالله رسمي ویندویان یې په رسنیو کې سم نه شي تشریح کولای. آیا موږ ملي یووالی نه لرو چې اوس جان کري د یووالي تجویز کوي او که څه بله ستونزه شته؟
د اشرف غني ویندوی وایي چې ملي یووالی یعني دا چې د دوی د مسلکي او متخصصو کسانو حکومت به د ټول افغانستان استازیتوب کوي؛ خو د عبدالله سړي وایي چې نه زموږ وندې به اپوزیسیون، اجرائیه ریاست او ٪۵۰ ټوله اداره او امکانات وي!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس راځم دې ته چې که دا حضرات له ما څخه مشوره غواړي، زه په ډېرو صفا او سپينو کلماتو ورته وايم چې له ماضي څخه پند واخلئ، ناکامې تجربې بيا مه تکراروئ، افغانستان د پاڼ په څنډه ولاړ دی، بهرني ځواکونه وځي، بهرنئ مرستې کميږي، د خلکو او دولت ترمنځ دومره واټن دی چې په نوري کلونو بايد محاسبه شي، د هيواد له نيمايي ډېرې ولسوالۍ عملاً سقوط دې او هيڅ راز اداري، مالياتي، قضايي او خدماتي فعاليت نه لري، مخالف وسله وال پروان، وردګو، لوګر او کاپيسا ولايتونو ته رسېدلي، هسې نه چې د دواړو ډاکټر صاحبانو ارمانونه خدای مه کړئ پوره نه او خبره تر هغه دوو کلونو پورې ونه رسي چې په اساسي قانون کې بدلون راولي، يو ولسمشر وي او بل اجرائيوي لومړی وزير!

دې دواړو حضراتو ته زما مشوره دا ده چې د ټاکنو پايلې، د افغانستان د خلکو نظر ته د احترام په نامه ومني، يو ولسمشر شي او بل د يوه منظم، شفاف او قانوني اپوزيسيون لاربښود.

دوه هندواني په يو لاس کې نه نيول کيږي. (پوزيشن) او (اپوزيشن) په يوه وخت کې نه کيږي. يو دې پوزيشن ته لاړ شي او بل دې اپوزيشن سمبال کړي!

دا حضرات بايد په دې پوه شي چې خلکو دوی ته نه؛ بلکه د دوی کړنلارو ته رأيه ورکړې چې يو ځای کيدل يې ډېر وخت غواړي او عملي هم نه دی.

په پای کې وايم که د اجرائيه رياست، وزارتونو، ولايتونو، تنظيمی ګټو، قوماندانيو، سفارتونو، قراردادونو، امکاناتو، صلاحيتونو او چور موضوع نه وي، هر څوک دې خپل ځای ونيسي. ګټونکی ولسمشر او بايلونکی د اصلاح غوښتونکي، منتقد او پياوړي اپوزيسيون مشر.

خو که اصلي خبره په ګټو کې وي او ظاهراً د افغانستان، خلکو، ملي منافعو، ملي يووالي او ګډ حکومت ويناوې کيږي، پايله به يې همداسې وي لکه زه چې اټکل کوم. د واکمنئ د پای ورځې به ډېرې رانژدې شي!!

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ